سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۶/۰۹

# دا ورورې کــه دښــمــنــي د؟

دا ورورې کـه دښمني ده، چې یو بل په کاڼو ولو
د پردی خوښـی د پاره، کلـي خـپل په کاڼو ولو؟؟
ته هم وایی چی انسان یم، زه هم وایم چی انسان یم
تـه هـم وایی مسلمان یم، زه هـم وایـم مسلمان یم
ته هم وایی چی افغان یم، زه هم وایم چی افغان یم
خو یو بل ته مخا مخ یو، سره تـل په کاڼو ولـو
د دُښمن خوښئ د پاره، بچي خپل په کاڼو ولو

** * **

هم شریکه مو حیا ده، هم شریکه مو ده وینه
هم شریکه مو لیلا ده، هم شریکه موده مینه
هم مو ژوند سره شریک دی، هم شریکه موده مرینه
غلیمانو ئیو بیل کری، په گوگل په کاڼو ولو
د جنت په شانته ښکلی، گران کابل په کاڼو ولو

** * **

څو به سیزو خپل کورونه، څو به سیزو خپل باغونه
څو به سیزو خپل ننګونه، څو به سیزو خپل ویاړونه
څو به سیزو خپلی میندی، څو به سیزو خپل پلرونه؟؟؟
ټول جهان را پوری خاندی، کلي خپل په کاڼو ولو
دا نو څه ډول ورورې شوه، سره تل په کاڼو ولو؟

** * **

راځې یو کرت یو بل ته، د ورورۍ لاسونه ورکړو

د هر غم مقابلې ته، د دوستۍ لاسونه ورکړو

چې الله(ج) پرې راضې کېږی، د راستۍ لاسونه ورکړو

لا ترڅو به کلیوالو، زخمی ګُل په کاڼو ولو

ټول جهان راپورې خاندی، چې کابل په کاڼو ولو

دا وروری که دُښمنی ده، چې یو بل په کاڼو ولو؟؟

نوټ

دا شعر هم تکړه او د ښه استعداد شوقی هنرمند بشیر جان میدانی صاحب په خپل خواږه آواز کې د خوږې موسیقۍ سره ویلی دی چې په یوټوب کې یی د بشیر میدانی تر نامه لاندی میندلی شی. مننه.

جولای/ ۲۰۱۴ تورنتو ـ کاناډا